صلاح الدین سعیدی ۲۰۱۸/۰۹/۱۰

# انسان، ارزښتونه او یو شمېر حقایق!

انسان پینځه حواسه لري چي پري ډېر مغرور دی او ګمان کوي چي زه به نور په چالاکی او چوتاری دوکه کړای شم.

انسان شرم او حیاء لري او شته چي دا صفت نه لري.

وایي دا کس بي وجدانه او بي شرفه دی.

زه وایم، ټول انسانان وجدان او شرف لري خو دا ملکه او شرف چاکي قوي او چاکي ضعیفه کړای شي. ددې قوت او قوي کول زمونږ خپل لاس کي دی. یا یي په ممارست او غم خوری روزمره په خپلو کړو او وړو کي ممارست کوو، جلاء او پالایش ورکوو، قوي او بُراق کوو او یا یي روزمره پر خپلو اقوالو، اعمالو او کردارو، چالاکیو، دوکو او فریب، او په پوره سپین سترګي ځان هوښیار، در جان بزن او په ښکاره د خلکو په سترګو د کالیو سره ننوتل او ګمان کول چي نور کم عقل دي، عملاً ځان تتوو، تاریکوو او ځان سپکوو.

په یاد ولرو چي د نن ډېر خلک او انسانان که څو قرنه مخکي تولد شوي وای د هغه بصیرت او پوهي له کبله چي الله تعالی دوی ته ورکړي نو ټول به ولیان ګڼل کېدل. هو یو بصر دی یعني سترګه او بل بصیرت دی چي په بصیرت د آشیاو لیدل او پېژندل دداخلي پوهي او باطني فهم له کبله چي الله تعالی بشر ته ارزاني کوي، پېژندلای شي او پېژني.

تصور یي وکړئ چي بعضي مشهور او پیشرفته افسانوي د کراتي او تیکواندو اتلانو به د جنګ په موخه سترګي پټولي او د سترګو وظیفه یي غوږونو اداء کوله.

دا بحث اوږد خو راځئ چي خپله سر ګریوان کي کښته کړو او خپل ماحول کي انسانانو ته په ټیټه و نه ګورو او داسي تصور ونکړو چي والله په چالاکی او چوتاری به کوم شوم هدف تر لاسه کړم. لږه موده به ممکن څه تر لاسه شي خو دوام به ونه کړي چي حق به حقدار ته رسي.

دلته داسي کسان شته چي د خبری شېږ مخه لولي او کم هم نه دي.

یو چي د جملي اول وایي هغه بل یي په آخر پوه دی.

خپل ځای او مقام وپېژنو او د نورو له انسانیته سوء استفاده ونکړو.

خلک په هره خبر پوهیږي خو د حیاء به څه نه وایي.

په چالاکیو ځان سپکول نه دي په کار! نه چلیږي. نن وچلیږي سبا نه چلیږي او دا سبا دادی د نر پښتون، باتور پښتون، منظور پښتون په درایت او سپیڅلتیا او زعامت. راسپدلای.

ای اس ای دې هم په دې پوه شي چي اوس خلک پوه دي. پاکستاني ریاست، پنجابي ریاست یعني د ترور او دهشت ریاست.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

په اوسني پاکستان کي مظلوم او با عزته انسانان، هغو چې د افغانانو سره خپله ډوډی او مړی نيمه کړه، با عزته او با شرفه انسانان ډېر دی او کله چې مونږ په احساساتو کي پاکستان وايو نو منظور مو د پنجاب رياست او استابلشمنت دی چې هريخوا ظلم کوي او کړای.

زمونږ لا نظر بل وه او دی او هغه داچې: له آمو نه تر آباسينه او مارګلي يو افغان، يوه وينه، يو جومات، يوه مقبره او هديره، يو تاريخ، يوه ژبه او يو عزت دی.

که ای اس ای او اجنتان، ګلخانان او شرميدلي نوکران يې هرڅه وکړي دا تاريخ او دا عزت نه شي ببلولای او اوبه په ډانګ نه بېليږي. اوبه خو بيا له سره په ګلخانانو او پلورل شوو مشرانو نه بېليږي.

آخر کي دا ويل غواړم چې لر او بر يو افغان دا مانا نه ده چې زه پېښاور په شاه او اوړو کوم او کابل ته راوړم او پرې به د پنجاب پر ځای دلته خپله باداري کوم. نه داسي نه ده. هرسيمه او هر منطقه، خپل يې خلک او خپل يي واکداري او خپل يي وسايل.

هو زه چې نن د ميليونو متر مکعب اوبه چې يواځې ۵ فيصده د پښتنو سيمو ته ځي او نور يې پنجاب ته، دا بندول غواړم او ان شاء الله بندي به شي خو هغه د خپل رور سره، پښتنو سره شريکول غواړم، د خپل رور په خدمت کي ورکول غواړم چې تور او پنجاب ته يې نور وړيا نه ورکوم.

دادي حقايق چې ځان پرې پوهول په کار دي او نورو ته د ګلخان په شمول رسول په کار دي او دا کار کوو.

ان شاء الله تعالی.